بشير دوديال / مختصات افغانستان/ متصوفان

۲۰۲۳/۰۱/۰۷

# د افغانستان په لوی قاموس کې د نظام الدین اولیا پېژندنه

په هندوستان کې ډېر داسې زيارتونه شته چې مسلمانان؛ او بيا په دوی کې افغانان ورته درناوی لري. زياتره افغانان چې ډيلی ته ولاړ شي، يو ځل د نظام الدين اوليا زيارت ته هم ورځي، په افغانستان کې هم ډير خلک د ده نوم يادوي، خو د دغه نامتو متصوف او پرهيزگار شخص پېژندنه افغانی اخځونو کې لږو ځايو کې شوې ده . دلته يي لنډه پيژندنه راغلي ده:

محمد بن احمد بن علی دهلوی (۶۳۳ – ۷۲۵ ق.) يا حضرت شيخ خواجه سيد محمد نظام الدين اوليا چې په شاه نظام الدين اوليا، شيخ نظام الدين اوليا، نظام دهلوي او نظام الدين خالدي دهلوي هم مشهورو، د اتمې قمري پيړۍ نامتو شيخ او د هندوستان يو لوی عارف او د چيشتيه طريقی نامتو څيره وه. ده ځينی وخت (نظام) او ځينی وخت (نرگسی) تخلص هم غوره کړی و. پلاريي د بخارا و، چې د هندوستان نيمی وچی ته تللی و او هلته په لاهور کی ميشت شو. وروسته تر څه مودې له لاهور څخه بدايون کلی ته ولاړ چې هغه مهال يي د هند د دارالاسلام حيثيت لاره، نو همالته ميشت شو. نظام الدين په دغه ځای کی نړۍ ته سترگی پرانيستي. د نظام الدين پلار د ده په پنځه کلنی کې وفات شو، نو ځکه يي روزنه مور بی بی زليخا ته ورپه غاړه شوه. مور يي يوه پرهيزگاره او زاهده ښځه وه چې د زوی په پالنه کې يي ډيرې هڅې وکړې. نوموړی په بدايون کی زده کړی وکړې او هلته يی د علومو مقدمات ولوستل او څه موده وروسته بيا له خپلی مور سره ډيلی ته ولاړ. يوه شپه يی د ډيلی جامع جومات کی د مؤذن له خولی يو آيت واوريد، نو په زړه کی يی د طلب شوق پيدا شو او شيخ فريدالدين گنج شکر ته ورغی. دغه شيخ په هند کی د چيشتيه طريقی پيشوا او د نظاميه طريقی بنسټ ايښودونکی و. ډيره موده يي له هغه څخه او د طريقت له نورو پيرانو، لکه ؛ شمس الدين دامغاني، علاالدين اصولي، فريدالدين مسعود او نورو څخه لاسنيوی وکړ او په دی توگه د ارشاد پړاو ته اوچت شو چې ډير پيران او مريدان يی وموندل.

د ده یو مخلص سید محمد مبارک وایي: (فریدالدین ګنج شکر د خواجه په هکله ویلی و: الله ورته علم، عقل او عشق وربښلی دی، ځوک چی دغه دری صفتونه ولری نو له هغه څخه د ډیر غوره مشایخو خلافت جوړیږی ....)

نظام الدین اولیا د ژوند په پیل کی بیوزله او پریشانه و، خو استغنا یي لرله، له هیچا یي څه نه اخیستل. څه موده وروسته یی چی هند کی نوم خپور شو، د ډیرو مسلمانو امیرانو ورته پام شو او اسلامی پاچایانو او په دی لړ کي سلطان جلال الدین خلجی ورسره د لیدو کتو غوښتنه وکړه. نظام الدین د اسلامی معارف په دود کولو او پراخولو کی ډیری هڅی وکړی، د هند په ډیرو برخو کي د اسلامی معارف خپریدل د نظام الدین اولیا او د ده د خلفاوو د پاملرنې له امله وو. عبدالرحمن جامی په نفحات الانس کی د ده کرامات بیان کړي دي.

د اخبار الاخبار لیکوال وایی: د ډیلی نامتو عارف نظام الدین اولیاو هره دوشنبه د منهاج الدین سراج جوزجانی د فکر اوذکر مجلس ته ورته او له هغه څخه يي روحانی فیض اخیست. نوموړی غوره کتابونه ولیکل لکه: فواید الفواد، راحة المحبین، فضل الفواد او سیرالاولیا. د فواید الفواد کتاب چی د نظام الدین اولیا له ملفوظاتو څخه دی، د نامتو عارف امیر حسن سجزی په واسطه چی د (هند سعدی) ورته وایی، راټول او د چشتیه شیخانو په هکله یی پوره معلومات ورکړی دی. راحت القلوب د شیخ فریدالدین مسعود ګنج شکر له مفلوظاتو څخه دی چی خواجه راټول کړي دي. هغه عرفانی رساله هم د ده بلل کیږی چي په بهاول نګر کي صاحب زاده نور جهانیان خوندی کړی وه. د توحید رساله چې اوس په کراچی کي د پاکستان ملی موزیم کي ساتل کیږي، هم د ده بلل شوې ده. (عشق حقیقی) چې د ریښتیانی مینی په هکله د ده یو لیک دی او د کراچی د اردو د ترقی په ټولنه یاانجمن کي ساتل کیږي او( فقر نامه در فرقه درویشی) هم په احتمالی ډول د شکرګنج په آثارو کی شمیرل کیږی چی په بهاول نګر کی صاحب زاده نور جهانیان محمودی ساتلی وه. د نظام الدین مکتوبات چی د لاهور د شیرانی پوهنتون کی موجوده ده هم د ده بلل شویده. نظام الدین اولیا داسي مرید و چی د نورو حکایتونه یی لیکلی او هم داسی مراد و چی نورو د ده په هکله حکایات راوړي دي. امیر حسن دهلوی او امیر خسرو دهلوی چی په هند کی دوه پارسی ژبی شاعران وو، خواجه ته یی د پیری او طریقت برخه کی بیعت کړی و او د هغه څلور ګوټ لرونکی خولی چی د دغی سلسلی یوه نښه وه، همده ته سوغات کی ورکړل شوه او د ځانګړو مریدانو په ډله کي وشمیرل شول. امیر خسرو د خواجه د اسرارو خاص ساتونکی و چی د ترک الله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

لقب یی ورکړی و او ځینی وخت به یی ویل: یاالله له تاسره د دغه ترک د مینی په برکت ما وبښی. نظام الدین د خپل مرید امیر خسرو دهلوی په صفت کی ویلی و:

ازملک سخنوری شهی خسرو راست

خسرو که به شاعری نظیرش کم خاست

این خسرو ماست ناصر خسرو نیست

زیرا که خدای ناصر خسرو ماست

همدارنګه امیر خسرو دهلوی په خپلو دوو منظومو (وسط الحیوة) او (غرة الکمال) او همدارنګه د (تحفة الصغر) په منظومه کی د شیخ نظام الدین په صفت کې یو شمیر قصیدې لیکلي دي. مریدانو یې د سلطان الاولیا او محبوب الله په نومونو یاد کړی دی. د ده شاګردان او خلیفه ګان هر یو یې د هندوستان په بیلابیلو سیمو کی په فعالیت بوخت وو. د ده یو شاګرد خواجه نصیرالدین په اودو، ګجرات او پنجاب کی په روحانی او مذهبی برخه کی ژوره اغیزه لرله. یو بل شاګرد یې سراج الدین په بنګاله او بیهار کي اسلامی تعلیمات او تصوف خپور کړ او یوه بل چی برهان الدین نومېد، په رکن کي او د هندوستان نورو مرکزی سیمو کي خلکو ته ارشاد کاو. شاه نظام الدین اولیا په ۷۲۵ ق. کال په ډیلی کی وفات شو او همالته خاورو ته وسپارل شو.



لومړی ځل د ډیلی د ځواکمن پاچا محمد تغُلق له خوا د ده قبر جوړ شو، چی وروسته بیا څو څو ځله ورغاول شو. اوسنی زیارت یې چې په ۱۵۶۲ م. کی جوړ شوی د ډیلی یو پخوانی زیارت دی چې له ګڼې- ګوڼې یوې ډکې سیمې کې د همایون د قبر تر څنګ، په هندوستان کې د شکر ګنج په هدیره کی دی چې هر کال ډیر مسلمانان او اهل تصوف زیارت ته ورځي او هلته یوه ورځ د ده په یاد یوه غونډه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

جوړوي چې زرګونه مسلمانان پکې ګډون کوي او خطیبان پکې خطبې لولي. د حضرت نظام الدین اولیا د هدیرې شاوخوا یو شمیر نور تاریخی زیارتونه او ودانۍ هم شته. په دې کې یو هم د امیر خسرو دهلوی قبر دی چې تل یې پیروان ورتوليږی. همدارنګه د شاه جهان د لور جهان آرا بیګم قبر چې د دري/پارسی ژبې شاعره وه، هم همدلته دی. د هندوستان د ګورګانی کورنۍ د یوی نامتو څیرې یعنې اتکه خان قبر هم په همدی هدیره کې دی. د اوسني پاکستان له جوړیدو مخکې، ګاونډي هیواد، هند سره د تجارتی اړیکو برعلاوه، یو شمیر کلتوری او مذهبي اړیکي د هند او افغانستان ګډ مشترکات وو، خصوصاً دعرفان او تصوف لارویانو او دچشتیه طریقې مریدانو به هند ته هرکال سفرونه لرل.

## معرفی مختصر نظام الدین اولیا درقاموس کبیر افغانستان

در هندوستان، همسایه ی تاریخی ما قبور و زیارتهای زیادی موجود اند که مسلمانان؛ خصوصاً افغانها به انها احترام و ارادت دارند. تعدادی زیادی افغانها وقتی به دهلی میروند، حتماً به زیارت نظام الدین اولیا نیز میپردازند، در داخل افغانستان نیز عده ی زیادی از مردم بانام او آشنایی دارند، اما باوجودآن این چهرهٔ متصوف و پرهیزگار در ماخذ افغانی کمتر معرفی گردیده است . درینجا خلاصهٔ از زندگی او تذکر یافته است :

محمد بن احمد بن علی دهلوی (۶۳۳ – ۷۲۵ ق.) یا حضرت شیخ خواجه سید محمد نظام الدین اولیا که بنام شاه نظام الدین اولیا، شیخ نظام الدین اولیا، نظام دهلوي و نظام الدین خالدي دهلوي نیز مشهوربود، یکی از شیوخ وعرفای نامدار **طریقه چشتیه** طی قرن هشتم قمري هندوستان بود. او بعضاً (نظام) و (نرگسی) نیز تخلص میکرد. پدرش متولد بخارا بود، که در ایام جوانی به هندوستان رفت و در لاهور مسکن گزید. بعد از مدتی از شهر لاهور به منطقهٔ بدایون رفت که در آن زمان حیثیت دارالاسلام هند را داشت، در آنجا مسکن گزید. نظام الدین در همین منطقه چشم به جهان گشود. هنگامیکه او پنجساله بود، پدرش فوت کرد، بعد از ان مادرش زلیخا او را تربیت داد. مادرش نیزیک زن پرهیزگارو متقی بود. او در بدایون آموزش دید و مقدمات علوم را آموخت، بعد با مادرش یکجا به دهلی رفت. تصادفاً شبی در یکی از مساجد دهلی آیتی را از یک مؤذن شنید، این حادثه باعث شوق و طلب سلک در او شد، غرض رهنمایی نزد شیخ فریدالدین گنج شکر مراجعه نمود. او پیشوای طریقهٔ چیشتیه و تهدابگذارنظامیه بود. خواجه سید محمد نظام الدین، به ارشادات مشایخ مانند شمس الدین دامغاني،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

علاالدین اصولي، فریدالدین مسعود و سایرین گوش داد و از آنها نور معرفت حاصل نمود تا خود به مرحلهٔ ارشاد رسید و بعد  مریدان زیادی دورش جمع بودند.
یکی از مخلصان او سید محمد مبارک نقل قول نموده است: (فریدالدین گنج شکر در مورد خواجه چنین فرموده: خداوند برای نظام الدین  علم، عقل و قوت و خلوص عشق بخشیده، هر آنکه این صفات را داشت،  مرتبهٔ خلافت شیوخ را میابد ....)
نظام الدین اولیا در اوایل شخص فقیر و پریشان بود، اما صاحب استغنا، از هیچکسی توقع چیزی نداشت. بعد از مدتی در تمام هند مشهور شد، بعضی امرای مسلمانان نیز به او عطف توجه نمودند، از آن جمله سلطان جلال الدین خلجی از و تقاضای ملاقات نمود. نظام الدین در راه تعالیم معاریف اسلامی خدماتی شایانی نمود، توسعهٔ معارف اسلامی در بخشهای وسیع از هندوستان تماماً از سبب تلاشهای او اند. چنانچه عبدالرحمن جامی در نفحات الانس چنین نوشت:
نویسنده اخبار الاخبار گوید: عارف مشهور دهلی نظام الدین اولیا هرروز دوشنبه به مجالس فکر و ذکرمنهاج الدین سراج جوزجانی حاضر میشد و از او فیض روحانی میجُست. او آثارگرانبها نوشت مانند: فواید الفواد، راحة المحبین، فضل الفواد و سیرالاولیا. کتاب فواید الفواد که از جملهٔ ملفوظات نظام الدین اولیا است، این اثر توسط عارف مشهور امیر حسن سجزی که ملقب به (سعدی هند) است، جمع آوری شد که معلومات ضروری در مورد شیوخ چشتیه در آن موجود است. راحت القلوب نیز ازجمله ملفوظات  شیخ فریدالدین مسعود گنج شکر بوده که  توسط خواجه تدوین یافته است. رساله دیگر عرفانی نیز منسوب به اوست که  دربهاول نگر توسط صاحب زاده نور جهانیان ثبت و ضبط گردیده است. رسالهٔ "توحید" که اکنون در موزیم ملی  شهر کراچی پاکستان موجود است نیز منسوب به اوست. (عشق حقیقی) کهٔک نامهٔ او میباشد در انجمن ترقی کراچی محفوظ است و( فقر نامه در فرقه درویشی) هم به احتمال قوی مربوط همین شکرگنج  بوده که در بهاول نگر توسط صاحب زاده نور جهانیان محمودی دریافت و تا فعلاً محفوظ است.  مکتوبات نظام الدین که در پوهنتون شیرانی لاهور موجود اند، نیز مربوط ایشان است. نظام الدین اولیا هم مرید و  هم مراد بود که هم  حکایات دیگران را نوشته و هم حکایات خودش سینه به سینه انتقال یافته اند.  امیر حسن دهلوی و امیر خسرو دهلوی که دو شاعر مشهور زبان دری/ فارسی در هند بودند، در عرصهٔ پیری و طریقت به خواجه بیعت نموده بودند، کلاه مخصوص چهار پهلو که نشانه این سلسه است، به او هدیه شده بود.  امیر خسرو از جملهٔ راز داران


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

خواجه بود که به او لقب  ترک الله  را داده بود چنانچه گوید: یاالله به برکت عشق این ترک که به ذات تو دادر، مرا ببخش. نظام الدین در مورد مریدش، امیر خسرو دهلوی گفته است :

ازملک سخنوری شهی خسرو راست

خسرو که به شاعری نظیرش کم خاست

این خسرو ماست ناصر خسرو نیست

زیرا که خدای ناصر خسرو ماست

همچنان امیر خسرو دهلوی در دو منظومهٔ خود (وسط الحیوة) و (غرة الکمال) و در اثر دیگری (تحفة الصغر) در وصف  شیخ نظام الدین قصایدې دارد. مریدانش او را بنامهای سلطان الاولیا و محبوب اللهٔاد نموده اند. شاگردان و خلفای او در قسمتهای مختلف هند به سلوک و طریقت پرداختند، یکی از شاگردانش خواجه نصیرالدین در اودو، گجرات و پنجاب درمسایل روحانیت و مذهب تاثیر ژرف داشت، شاگرد دیگرش سراج الدین در بنگاله و بیهار به توسعهٔ تعلیمات ا سلامی و تصوف پرداخت و برهان الدین ، در دکن وسایر مناطق هندوستان مصروف ارشاد بودند.  شاه نظام الدین اولیا به سال ۷۲۵ ق. در شهر دهلی وفات ودر همانجا دفن گردید. زیارت او برای بار اول توسط شاه قدرتمند دهلی محمد تغُلق اعمار شد، بعد ها چندین بار این زیارت ترمیم شد. شکل امروزهٔ زیارت که در ۱۵۶۲ م. ساخته شد یکی از زیارتهای قدیمی در دهلی پنداشته میشود که در یک منطقه مزدحم شهر در کنار قبر همایون در هدیرهٔ شکر گنج قرار دارد وهمه ساله تعدای زیادی از مسلمین و اهل تصوف به زیارت آن میروند. در یک سال روز معین برای عُرس او تعیین شده که مسلمین زیادی در ان اشتراک نموده و خطبا به ایراد خطبه ها میپردازند.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

در اطراف زیارت حضرت نظام الدین اولیا یکتعداد قبور وزیارتهای دیگروبناهای تاریخی نیز موجود است، در آن جمله قبر امیر خسرو دهلوی نیز شامل است که او نیز ارادتمندانی دارد. همچنان مقبرهٔ جهان آرا بیگم دختر شاه جهان که شاعر زبان دري/پارسی و قبر یکی از مشاهیر خاندان گورگانی هندوستان یعنی اتکه خان نیزدرهمین احاطه قرار دارد. قبل از تشکیل شدن پاکستان امروزه؛ افغانها در ضمن مراودات و تبادلات تجارتی با کشورهمسایه هند، مراودات کلتوری و مذهبي و مشترکات قوی بین مردم هند و افغانستان ، خصوصاً در ساحهٔ عرفان و تصوف وجود داشت یکی از آنها اخلاص مریدان طریقهٔ چشتیه به شمار میرفت که همه ساله مریدان و سالکان آن به هندوستان سفر مینمودند و عُرس بر پا میکردند.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ